# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| اقتصادی | Economical |
|---|---|

د افغانستان پیشګام ډله
۱۳۸۶- د تلې میاشت

## آزاد بازار، بډاينه او بېوزلي

لومړۍ برخه:

وروسته لـه دې چـې امپرياليـستي هيوادونـه د آزادي بخـښوونکو غورځنګونـو او د سوسياليـستي ايـدئولوژي د غښتلتيا په پايله کې د کلاسيک استعمار څخه لاس په سر شول او په نوي استعمار يې پيل وکړ، په وروسته پاتې هيوادونو کې د نوي استعمار د پلي کيدو په موخه يې د آزاد بازار اقتصاد پـه دودولو لاس پورې کړ. امپرياليستي هيوادونه، چې دا وخت د نولسمې پيړۍ (کلاسيک استعمار) په څير نشي کولای خپله سياسي او اقتصادي برلاسي پر بېوزلو هيوادونو وساتي، د نوي استعمار په پلي کولو سره هڅه کوي د وروسته پاتې هيوادونو اقتصاد پـه منګولو کې ولري.

امپرياليستان د مستقيمې او ګډې پانګې اچونې لـه لارې هڅه کـوي چې د بېوزلـو هيوادونو صـنعت، کرهنه او سوداګرۍ په خپلو لاسونو کې ولـري او د پانګې د صـادرولو، د پورونو پـه ورکولو او پـه اقتصادي فشارونو سره، وروسته پاتې هيوادونه په خپلو مستعمرو بدل کړي. امپرياليستي ځواکونه د آزادې سوداګرۍ تر نامه لاندې د بېوزلـو هيوادونو د اقتصادي ودې مخه نيسي او دا هيوادونـه د خپلو لوړ بيـه توکو د پلور او د ارزانـه اومـه توکو د پير پـه بازارونو بدلوي. همدا ډول امپرياليستان د بانکونو او انحصاراتو په جوړولو سره د دولت په منځ کې خپل اقتصادي دولت رامنځ ته کوي او له دې اقتصادي دولت څخه د سياسي فشار په توګه کار اخلي. امپرياليستان د نـوي استعمار په اډانه کې کوښښ کوي چې ملي بورژوازي په پانګه اچونې کـې ګډه کړي، تر څو د ملي اقتصاد جرړې وچې کړي.



دا وخت زموږ په هيواد کې د امپرياليستانو لخوا د کلاسيک استعمار تـر څنګ نـوی استعمار هـم د افغانـستان د لوټلـو او د زيارکښو پرګنـو د زبيښاک پـه موخـه پلـي کيږي. د امپرياليستانو د پوځي يرغل تر څنګ؛ اقتصادي يرغل په چټکۍ سره زموږ ملي اقتصاد د امپرياليستي شرکتونو په منګولو کې ښکيل کوي. د آزاد بازار دلالان د نړيوالو ټولنو پـه مرسته هلې ځلې کوي چې د خلکو اقتصادي برخليک امپرياليستانو تـه وسپاري او هيواد د بهرنيو شرکتونو په مارکيټ واړوي. له همدې امله د افغانـستان پيشګام ډلـه پـه دې ليکنـه کې هڅـه کوي چې د آزاد بـازار امپرياليـستي منځپانګـه راوسپړي او د دې اقتـصادي نظـام استثمارونکی ماهيت بربنډ کړي، تر څو د هيواد زيارکښان په سياسي پوهې سره وکړای شـي د دې زبيښونکي نظام او د امپرياليزم د دلالانو پـه وړاندې ودريږي او د سوسياليـستي اقتـصاد د واکمنيدو لپـاره مبـارزه وکړي.

### آزاد بازار، سيالي که انحصار؟؟

پانګوالي ټولنې، چې په ۱۸ پيړۍ کې د فيوډالي ټولنې لـه منځـه سر راپورتـه کړ، پـر آزادې سيالۍ ولاړه وه. د وخت په تيريدو سره دې ټولنې د کوچنيو پانګوالو او شرکتونو پـه ديوالي کولو سره انحصارات رامنځ تـه کړل. د پولي او صنعتي پـانګې لـه يوځـای کيدو سره لويو بـانکونو ځواکمنتيا وموندلـه او د آزادې سيالۍ پړاو، انحصـار يـا امپرياليزم ته واوښت. امپرياليستي اقتصاد د دولت تر کنټرول لاندې نـه وي؛ د کمپنيو مديران لـه توليد څخـه څارنـه

کوي او د سوسیالیستي نظام پر خلاف، دولت چې د کمپنیو له استازو څخه جوړ شوی دی؛ یوازې له کمپنیو او خلکو څخه د مالیې راغونډولو دنده په غاړه لري، په تولید او د توکو په ویش کې ونډه نلري.

وروسته له دې چې آزاده سیالي په انحصاراتو واوښته؛ ورسره جوخت، امپریالیزم د توکو د صادرولو پر ځای د پانګې په صادرولو پیل وکړ (ځکه چې هم آسانه دی او هم مصرف نلري)، تر څو د نیمه پانګوالو ټولنو بازارونه، اومه مواد او کاري ځواک په کنټرول کې ونیسي او په نیمه پانګوالو هیوادونو کې یې د ملي بورژوازی تر څنګ د کمپرادوري بورژوازی (دلال) طبقه را منځ ته کړه. د دې طبقې له رامنځ ته کولو څخه موخه د دې هیوادونو استثمار و. امپریالیزم د دلالي طبقې په ملتیا غواړي، چې په پرانیستي لاس او د پانګې په صادرولو سره د نیمه پانګوالو هیوادونو وګړي استثمار کړي او د خپلو دلالانو له لارې د دې هیوادونو اقتصاد برمته کړي.

امپریالیستي هیوادونه مخکې له دې چې د پانګې په صادرولو پیل وکړي، هڅه کوي په ټاکل شوي هیوادونو کې د پانګې د صادرولو زمینه برابره کړي او دا کار هغه مهال شوني دی، چې د دې هیوادونو دولتونه له سیاسی پلوه د خپل کنټرول او اغیزمنتیا لاندې ونیسي. له همدې کبله دا هیوادونه په استخباراتي فعالیتونو، د جاسوسانو په روزنې او د وروسته پاتې هیوادونو په دولتونو کې نفوذ کوي او په کودتاګانو لاس پورې کوي او خپل مزدور او لاس پوڅي دولتونه واکمنوي او د همدې مزدورانو په ملتیا په نیمه پانګوالو هیوادونو کې د خپلو استثمارونکو پانګو لپاره هر ډول شرایط برابروي.

امپریالیستي هیوادونو ټل هڅه کړې ده چې د همدې دلالي طبقې په ملتیا په نیمه پانګوالو هیوادونو کې د ګډ او دولتي اقتصاد پر ځای د آزاد بازار اقتصاد واکمن کړي، په داسې حال کې چې په خپله امپریالیستي هیوادونه نه په آزاد بازار باور لري او نه هم دا بازار د اقتصادي ودې لامل ګڼي. په دې هیوادونو کې د آزاد بازار اقتصاد پر ځای؛ مالي الیګارشي (د پولي او صنعتي اقتصاد یو ځای کیدنه)؛ تولید، سوداګري، دولت، رسنۍ، ګوندونه، پارلمان، پوځ، پولیس او قضا تر کنټرول لاندې نیسي. د امپریالیستي هیوادونو لویه بورژوازي، د نیمه پانګوالو او مخ په ودې هیوادونو د ظالمانه زبېښناک له لارې لویه پانګه تر لاسه کوي او د دې پانګې په مرسته په خپلو هیوادونو کې د اقتصادي کړکیچ مخه نیسي، چې په آزادې سیالۍ کې هر ۶ کال وروسته تکراریده.



امپریالیستان د دې لپاره چې له اقتصادي کړکیچونو څخه مخنیوی وکړي، بیلابیلې لارې کاروي . د دې لارو څخه یوه هم د توکو له منځه وړل دي. امپریالیستي هیوادونه د اضافه تولید د مخنیوي په موخه خپل تولیدات په سیندونو کې اچوي او یا یې هم د ډېران په توګه افریقایي او نورو هیوادونو ته صادروي تر څو کورني بازارونه له کړکیچ سره مخ نشي. همدا ډول د ټکنالوژۍ له پرمختګ سره سم ځینې کمپنۍ دنده لري، چې د نړیوالو بازارونو د غوښتنې کچه مالومه کړي تر څو د پانګوالو په فابریکو کې اضافه تولید رامنځ ته نشي.

د ټولني مصرفي کول هم له دې لارو څخه یوه لاره ګڼل کیږي. د دې موخې لپاره، امپریالیستي شرکتونه له رسنیو څخه د توکو د تبلیغ لپاره کار اخلي. د بېلګې په توګه په فرانسي کې د خوراکي توکو سکتور په کال کې ۱۴۰ ملیارده یورو عاید تر لاسه کوي، چې له دې جملې څخه ۷.۱ ملیارده یورو د تبلیغاتو لپاره لګوي. د فرانسې یو روغتیایي سازمان وایي، هغه خوراکي توکي چې ماشومان یې د رسنیو د تبلیغاتو له لارې ګوري، ۸۹٪ یې هیڅ خوراکي ارزښت نلري، خو امپریالیستي پانګوال دا خوراکي توکي د تبلیغاتو له لارې پر کورنیو پلوري.

په امپریالیستي هیوادونو کې د کارګري پاڅونونو د مخنیوي لپاره، بیکارانو ته د وزګارتیا معاش ورکول کیږي او هر کال میلیاردونه ډالره، چې د بیوزلو هیوادونو د زیارکښانو د زبېښناک له لارې تر لاسه کیږي، امپریالیستي هیوادونو ته لیږدول کیږي. په دې میلیاردونو ډالرو سره امپریالیستان په پرمختللو هیوادونو کې کارګرانو ته ځانګړي ټولنیز خدمات برابروي، چې له دې کار څخه موخه په امپریالیستي هیوادونو کې د کار او پانګې تر منځ د تضاد خوندي کول دي. که امپریالیستان په دې توګه غواړي چې د خپلو هیوادونو کارګران او پرولتره طبقه رامه وساتي، خو په بیوزلو هیوادونو کې د امپریالیستانو زبېښناک لامل شوی دی، چې دا هیوادونه لا بیوزله شي او د امپریالیستي هیوادونو او بیوزلو هیوادونو تر منځ د تضاد کچه په بې ساري توګه سیوا شي. دا وخت په بیوزله هیوادونو کې بیوزلي، وزګارتیا، ناروغي او جګړه په ناورین بدله شوې ده، چې د دې ټولو ناخوالو تر شا د امپریالیزم او د هغې د پراخو ځارګرو ادارو پټ لاس هرو مرو تر سترګو کیږي.

### آزاد بازار پر زبېښناک ولاړ دی

آزاد بازار، چې پر زبېښناک او ښکیلاک ولاړ دی او د زیارکښانو او په ځانګړي توګه د کارګرانو د وینو په زبېښلو سره پانګوالو ته افسانوي ګټې ور په برخه کوي، د واکمنې پانګوالې طبقې او د محکومې کارګرې طبقې د

طبقاتي تضادونو اصلي ډګر ګڼل کيږي، په دې اقتصادي سيستم کې پانګوال هلې ځلې کوي، چې خپله طبقاتي واکمني د ټولنې پر زيارکښو طبقو وساتي. له دې سره جوخت، پرولتره طبقه هڅه کوي د سياسي مبارزې له لارې د پانګوالو واکمنې پای ته ورسوي او د دې زبېښونکي واکمنۍ پر ځای، پرولتري ديکتاتوري، چې د پانګوالو خصوصي مالکيت پر ټولنيز مالکيت اړوي، واکمنه کړي.

که څه هم په بېوزلو هيوادونو کې د آزاد بازار دلالان، آزاده سيالي د دې اقتصادي نظام غوره والی ګڼي، خو ځرنګه چې په پيل کې وويل شول دا بازار نه يوازې دا چې پر آزادې سيالي ولاړ نه دی، بلکې د مالي اليګارشي د رامنځ ته کولو تر ټولو غوره نظام ګڼل کيږي. مالي اليګارشي لامل کيږي چې پرولتره انقلابي طبقه او د ټولنې نورې زيارکښې طبقې د څو طفيلي پانګوالو په مرييانو واوړي او د دې زبېښونکې طبقې اقتصادي او سياسي فرمان وړونکي شي، خو له هغه ځايه چې پرولتره طبقه له ماهوي پلوه يوه انقلابي او د پرېکنده دريځ طبقه شميرل کيږي، هڅه کوي چې د انقلابي او مارکسيستي ګوندونو په جوړولو سره د ټولنې زيارکښان له سياسي او اقتصادي مريتوب څخه وژغوري. پرولتره طبقه د پرولتري ديکتاتوري له لارې د آزاد بازار پر ځای سوسياليستي اقتصاد پر ټولنې واکمنوي، ترڅو پر توليدي وسايلو خصوصي مالکيت ته د پای ټکی کيږدي او زبېښناک پای ته ورسوي.

د افغانستان د اساسي قانون په لسمه ماده کې راغلي دي، چې دولت، د بازار اقتصاد د نظام پر بنسټ د قانون له حکمونو سره سم خصوصي پانګې اچونې او خصوصي تشبثات هڅوي، ملاتړ يې کوي او مصونيت يې تضمينوي.

د بازار اقتصاد له نظام څخه ننګه او ملاتړ او د هيواد د اقتصاد لپاره د دې نظام غوره والی، په ځرګنده توګه د دې ښکارندوي کوي، چې د افغانستان دولت د پانګوالي طبقې د ګټو د خونديتوب د ماشين په توګه چلند کوي او د دې دولت په اډانه کې مقننه، قضاييه او اجرائيه قواوې، د يوه بل تر څنګه د څو توکميزو شرکتونو او د بروکراتيکو او کمپرادورو پانګوالو د ګټو د خونديتوب دنده په غاړه لري.

لويديځو امپرياليستي هيوادونو د اساسي قانون د جرګې پر مهال زموږ د هيواد د اقتصادي او سياسي استعمار په موخه، آزاد بازار د افغانستان د اقتصادي نظام په توګه پر زيارکښو ولسونو وتپو او ورسره جوخت نړيوالو مالي او اقتصادي ټولنو هڅه پيل کړه، چې د دې بازار د تبليغ لپاره له بيلابيلو وسيلو څخه کار واخلي او په بې کچه مالي مرستو سره يې زموږ په هيواد کې بيلابيلي سوداګريزې او پانګه اچونکي ټولنې جوړې کړې، تر څو زيارکښو پرګنو ته آزاد بازار د "هوسايني جنت" وروښايي او دا بازار د اقتصادي پرمختګ تر ټولو غوره انتخاب په ګوته کړي.

دا وخت په افغانستان کې د پيسو نړيوال صندوق، نړيوال بانک، د سوداګرۍ نړيوال سازمان، د مالي مرستو نړيواله اداره، ساېپ، د آسيا پرمختيايي بانک، د امريکا د متحدو ايالتونو نړيواله پراختيايي اداره، جي ټي زيډ، ميګا (د پانګې اچونې د تضمين نړيواله اداره)، د امريکا د بيرنګ پواينټ اداره او نورې ادارې دآزاد بازار د دودولو او پياوړتيا په موخه کار کوي. دا ادارې هڅې کوي، چې د افغانستان د نړيوالې سوداګرۍ خونې( په سوداګريزه برخه کې) او په افغانستان کې د پانګې اچونې څخه د ملاتړ ادارې (د پانګې اچونې په برخه کې) له لارې آزاد بازار په افغانستان کې دود کړي او پانګوال مافيايي او لاشعور اقتصاد د خلکو پر ژوندانه واکمن کړي، تر څو زموږ د هيواد د کارګرانو په زبېښناک سره، په امپرياليستي هيوادونو کې د کارګري انقلابونو مخه ټپ کړي.

که څه هم امپرياليستانو په عمده توګه له جيو ستراتيژيک موقعيت له پلوه زموږ پر هيواد يرغل کړی دی او لا يې له مخابراتي برخې پرته په کوم بل سکتور کې د پام وړ پانګه اچولې نه ده او د پياوړې کمپرادورې طبقې د زيږيدو انتظار کاږي، خو په جنوبي کوريا، ترکيه او د هند په شان هيوادونو کې يې د آزاد بازار له لارې کمپرادوره طبقه رامنځ ته کړې ده او د دې طبقې له لارې يې په دې هيوادونو کې ميلياردونه ډالره پانګه اچولې ده.

د امريکا ناخالص ملي عايد په ٢٠٠٥ کال کې١١٠٠٠ مليارد ډالره و، چې په نورو هيوادونو کې د امپرياليستي استثمار سره نيږغه اړيکه لري. امريکا دا عايد د دريمې نړۍ د بېوزلو هيوادونو د پرګنو د استثمار له لارې لاس ته راوړی دی. وروسته له دې چې په ايران کې د آخوندانو اسلامي انقلاب بري ته ورسيد او اسلامي حکومت په ايران کې د امريکا د پانګې اچونې مخه ډب کړه، امريکا له اقتصادي پلوه له ډير بد وضعيت سره مخ شوه او د دې هيواد اقتصاد د ودې پر ځای غونځتيا ومونده. دا په ځرګنده توګه ښيي، که چيرې بيوزله هيوادونه له اقتصادي پلوه استقلال تر لاسه کړي او د بيوزله هيوادونو او امپرياليستي هيوادونو تر منځ تضاد له منځه ولاړ شي، په پرمختللو او صنعتي هيوادونو کې به د کار او پانګې تر منځ تضاد ګرندی شي او د کارګري پاڅونونو لامل به شي، څه چې امپرياليستی ګټو سره متضاد واقع کيږي او له همدې امله زبرځواک هيوادونه هڅه کوي په بيوزلو هيوادونو کې د کمپرادورې طبقې له لارې د استثمار کچه سيوا کړي، تر څو په خپلو هيوادونو کې د کارګري پاڅونونو مخه ونيسي.

## آزاد بازار؛ لاشعوره، روند او انحصاري اقتصاد

ادم سميت او د پانګوالی نورو اقتصادپوهانو د لومړي ځل لپاره د کلاسيک اقتصاد په اډانه کې د آزاد بازار تيوري وړاندې کړه. له دې تيوري څخه موخه په اقتصادي چارو کې د دولت د مداخلې مخه نيول او پر توليدي وسايلو د خصوصي مالکيت واکمني وه. ادم سميت په دې باور و، چې په اقتصادي چارو کې د دولت مداخلې ته کومه اړتيا نشته او يو پټ لاس (د عرضې او تقاضا ميکانيزم) اقتصادي چارې تنظيموي او د کړکيچ مخنيوی کوي. نوموړی په

دي اند و، چي د تقاضا او عرضي ميکانيزم لامل کيږي، چې په بازار کې د سيالۍ پر مهال توکي خپلې بيې ومومي او په دې توګه اقتصاد پرته له کومې غونځتيا او کړکيچ څخه وده وکړي. له همدې امله انقلابي سوسياليست اقتصاد پوهان داسې يو اقتصاد چې د پټ لاس لخوا هدايت شي، يو لاشعوره او ړوند اقتصاد ګڼي او دا ډول اقتصاد يوازې د پانګوالي طبقې په ګټه ارزوي او په دې باور دي، چې لاشعوره او ړوند اقتصاد، چې د پلان او برنامې پر ځای د تقاضا او عرضې پر ميکانيزم ولاړ وي، زيارکښانو ته له بدمرغۍ پرته بل څه نه ورپه برخه کوي.

له هغه ځايه، چې پر توليدي وسايلو خصوصي مالکيت د آزاد بازار د اقتصاد يوه ښکاره ځانګړتيا ده، امپرياليستي هيوادونه د خپلو اقتصادي ګټو د خونديتوب په موخه هڅه کوي د مالي ټولنو په مرسته د دې بازار تيوري د اقتصادي نظام په توګه وروسته پاتې هيوادونو ته صادره کړي، تر څو په دې هيوادونو کې د ښکيلاکي سياستونو لپاره لاره په آسانۍ سره هواره شي. حال دا چې په خپله امپرياليستي هيوادونه د آزاد بازار له اقتصاد څخه پيروي نه کوي او د بيلابيلو محدوديتونو په لګولو سره د نورو هيوادونو صنايع ديوالي کوي. نوام چامسکي د امريکا وتلی ليکوال وايي، چې امريکا او نور امپرياليستي هيوادونه د آزاد بازار تيوري يوازې د بيوزلو هيوادونو د لوټلو په موخه کاروي او په خپله په دې تيوري باور نلري. هغه وايي که چيرې امريکا په ۱۸۲۰ لسيزې کې د آزاد بازار له سياست څخه پيروي کړې وای، نو اوس بايد د پوټکو واردونکې وای، په داسې حال کې چې امريکا په محدودونکو سياستونو سره د انګلستان د ټوکر اوبدنې صنعت له ماتې سره مخ کړ، تر څو خپل صنعت له ماتې وژغوري. د امريکا متحد ايالتونه همدا اوس د کمپيوټر په ساحه وير کې ورته سياست پلي کوي او دا بازار يې د سيالۍ پر ځای انحصاري کړی دی. په ۱۹۹۵ کال کې د جاپان هونډا موټرونو چې ښه کيفيت، لږ لګښت او کمه بيه درلوده او په نړۍ کې د پلور لوړه کچه يې ځان ته ځانګړې کړې وه، د امريکا متحدو ايالتونو بازارونو ته په صادرولو سره، د دې هيواد د موټر جوړونې شوارليټ او کاډيلاک شرکتونه له ماتې سره مخ کړل. خو متحدو ايالتونو په بيړه په جاپاني موټرونو، ګمرکي ټکس دوه برابره لوړ کړ او په دې توګه يې په امريکا کې د هونډا د پير ځواکمنتيا راټيټه او شوارليټ او کاډيلاک يې له حتمي ماتې څخه وژغورل او د متحدو ايالتونو بازارونه يې يو ځل بيا د دې دوو کمپنيو په لاس کې انحصار کړل.

امپرياليست انګلستان هم د هندوستان د منسوجاتو په اړه ورته سياست پلي کړ. انګلستان د دې لپاره چې وکړای شي هندي منسوجات له توليدي ډګر څخه وکاږي، په مصر کې يې د مالوچو لويې کروندې جوړې کړې او په دې ډول يې د هندوستان د منسوجاتو صنعت له ماتې سره مخ کړ. همدا ډول دم ګړی امريکا او اروپايي اتحاديه د سبسايډو په ورکولو سره له خپلو کرنيزو سکټورونو څخه ملاتړ کوي، تر څو په افريقا، برازيل او آسيا کې کرنيز سکټورونه د سيالۍ په نامه له توليدي ډګر څخه وکاږي او د دې هيوادونو بازارونه تر خپلې ولکې لاندې راولي. همدا ډول دا دوه اقتصادي زبرځواکه هڅه کوي، چې پر چيني، افريقايي، ويتنامي او هندي توکو تعرفې لوړې کړي، تر څو خپل کورني توليدات له حتمي ماتې څخه وژغوري.

په شتمنو هيوادونو کې د مالوچو کروندګر، هر کال ۳ ميليارډه ډالره سبسايډي تر لاسه کوي. دا سبسايډي لامل کيږي، چې په نړيوالو بازارونو کې د مالوچينو توکو بيې په سلو کې ۲۵ راټيټې شي او شتمن هيوادونه په آسانۍ سره د بيوزلو هيوادونو بازارونه، چې کروندګرو ته سبسايډي نشي ورکولای، د "مشروع سيالۍ" او د آزاد بازار تر نامه لاندې تر نيواک لاندې ونيسي. سبسايډي لامل کيږي، چې بيوزله هيوادونه له شتمنو هيوادونو سره د سيالۍ په بهير کې له ماتې سره مخ شي او خپلې کروندې پر بهرنيو شرکتونو وپلوري. امريکا دا مهال هر کال خپلو کروندګرو ته په سلو کې ۵۳ سبسايډي ورکوي. د امريکا اوسنې قوانين دې هيواد ته اجازه ورکوي، چې هر کال خپل کرنيز سکټور ته ۲۲،۷ ميليارده ډالره سبسايډي ورکړي. دې هيواد په ۲۰۰۵ کال کې خپل کرنيز سکټور ته ۱۹،۶ ميليارده ډالره سبسايډي ورکړه. دا سبسايډي لامل کيږي چې د برازيل، چين او هند کرنيز سکټور، چې د نړۍ په سلو کې ۶۳ کروندګر لري، له ننګونې سره مخامخ کړي.

## آزاد بازار، دموکراسي که زورواکي؟؟

امريکايي اقتصاد پوه ميلټن فريډمن، چې د آزاد بازار معاصر تيوريسن ګڼل کيده، هغه وخت په متحدو ايالتونو او انګلستان کې شهرت وموند، چې په چيلي کې يې د آزاد بازار تيوري ګانې پلي کړې. د فريډمن تيوري ګانې په ټوليزه توګه د آزاد بازار پراختيا، خصوصي کول، په اقتصادي چارو کې د دولت د مداخلې مخه نيول، د ګمرکي تعرفو له منځه وړل، د نړيوال بانک، د پيسو نړيوال صندوق او د سوداګرۍ د نړيوال سازمان د سياستونو پلي کول رانغاړي.



فريډمن، د تور بازار او د نشه اي توکو د قانوني کيدو پلوي و. هغه په دې اند و، چې آزاد بازار د فردي آزادۍ د پراختيا اصلي فکتور ګڼل کيږي او بايد د آزاد بازار د اصولو پر بنسټ د هيچا فردي آزادي و نه ځپل شي. فريډمن په "پانګوالي او آزادي" نومي کتاب کې ليکي، چې سود او ګټه د دموکراسۍ اصلي جوهر دی او کوم دولت، چې د آزاد بازار ضد



afgazad@gmail.com

سیاستونه غوره کړي، یو دموکراتیک دولت نه ګڼل کیږي. له همدې امله نوموړي د امریکایي شرکتونو او د بریتانیې د وسلو جوړونې ستر شرکت BAE (دې شرکت د کودتا په درشل کې د پینوشې بانکي حساب ته یو ملیون پونډه ولیږدول) او د دیکتاتور پینوشې د کودتا په مرسته د آلنده دموکراتیک دولت، چې د چیلي په سلو کې ۶۵ خلکو رایه یې لاس ته راوړې وه، رنګ کړ، تر څو امریکایي شرکتونه وکړای شي د "دموکراسی" له "جوهر" څخه ستره ګټه پورته کړي!!

په ۱۹۷۳ کال کې، کله چې پینوشې واک ته ورسید، په چیلي کې د وزګارتیا کچه په سلو کې۴،۳ وه. د فریډمن د آزاد بازار د سیاستونو له پلي کولو وروسته په ۱۹۸۳ کال کې په دې هیواد کې د وزګارتیا کچه په سلو کې ۲۲ ته ورسیده او د واقعي مزد کچه په سلو کې ۴۰ راټیټه شوه. په ۱۹۷۰ ام کال کې د چیلي په سلو کې ۲۰ خلکو په بیوزلۍ کې ژوند کاوه، خو په ۱۹۹۰ کال کې، کله چې پینوشې د واک له ګدۍ څخه راکښته شو، په چیلي کې د بیوزلو وګړو کچه دوه برابره شوې وه او په سلو کې څلویښت خلکو په بیوزلۍ کې ژوند کاوه.

د دې اقتصادي ناورین لامل دا و، چې پینوشې د میلټن فریډمن په لارښودنې سره دولتي اقتصاد په خصوصي اقتصاد واړاوه او د نهو کالو په موده کې یې د تقاعد سیسټم خصوصي کړ، پر شتمنۍ ایزه او سوداګریزه سود بې مالیات لیرې کړل، په دولت کې یې د استخدام مخه ونیوله او۲۱۲ دولتي صنعتي ټولنې او ۶۶ دولتي بانکونه یې خصوصي کړل. پینوشې په دې منطق سره، چې دولت باید د آزاد بازار په میکانیزم کې لاس و نه وهي، د چیلي اقتصاد یې "پټ لاس" ته پرینود او ملي بانکونه یې پر بهرنیو پانګوالو د اصلي بیې څخه په سلو کې څلویښت ارزانه وپلورل. په دې ډول په ۱۹۸۲ او ۱۹۸۳ کلونو کې د چیلي د ناخالصه ملي عاید کچه په سلو کې ۱۹ راټیټه شوه.

په افغانستان کې هم دا وخت د ځینو پانګوالو او سوداګرو او د پانګوالۍ د اقتصادي تیوریسنانو لخوا د فریډمن د تیوري ګانو د دودولو هڅې روانې دي. دا ډله د فریډمن په څیر باور لري، چې له آزاد بازار پرته د دموکراتیکې ټولنې جوړول او د فردي آزادۍ تامینول ناشونې بریښي او د دموکراتیکې ټولنې د جوړولو لپاره باید آزاد بازار ته لاره پرانیستل شي. د آزاد بازار پلویان چې د نړیوالو مالي ټولنو بشپړه ننګه او ملاتړ له ځانه سره لري، ټینګار کوي چې له آزاد بازار پرته نه دموکراسي شونې ده، نه مدني ټولنه او نه هم بشري حقوق. دا ډله چې د بروکراتیکو او کمپرادورو پانګوالو او د وتلو سوداګرو په بنه رامنځ ته شوې، په دې لټه کې ده، چې د دموکراسي، بشري حقونو او فردي آزادۍ په نامه د افغانستان پر اقتصاد خیټه واچوي او د هیواد اقتصاد، مافیایي اقتصاد لور ته وکاږي.

د آزاد بازار پلویان په دې اند دي، چې له آزاد بازار پرته، د دموکراسۍ د پراختیا لپاره هڅې، ترکستان ته د تللو مانا لري او هیڅ ډول پایله به ورنکړي. دا پانګوال او سوداګر چې د لویدیځو شرکتونو د دلالانو په توګه په افغانستان کې فعالیت کوي، په دې لټه کې دي، چې پر تولیدي وسایلو د ټولنیز مالکیت پر ځای خصوصي مالکیت واکمن کړي. تر دې مهاله په افغانستان کې د امپریالیستي پانګو پیاوړي اقتصادي دلالان، چې د لویدیځ لوټمارې کمپنۍ وربانديې ډېره وو هي، رامنځ ته شوي نه دي. امپریالیستان هڅه کوي، چې د پانګې په صادرولو سره له ملي بورژوازۍ او ارضي ملاکانو څخه کمپرادوره (دلاله) طبقه رامنځ ته کړي. اختلاس کوونکي، د نشه ای توکو قاچاقچیان، د انجوګانو مشران، د ځمکې مافیا او جاسوسان هغه کسان دي، چې امپریالیستان په لټه کې دي د کمپرادورۍ طبقې په بڼه یې رامنځ ته کړي.

که چیرې له دموکراسۍ څخه موخه د ټولنې پر ډیري برخې د څو تنو پانګوالو واکمني وي، بې له شکه چې دا سوداګر او پانګوال او تیوریسنان یې په حق دي او که چیرې له دموکراسۍ څخه موخه پر تولیدي وسایلو د ټولنې د ډیري برخې واکمني وي، نو دا استثمارونکي پانګوال او سوداګر د ترکستان په لاره پل وهي. دا سوداګر په لټه کې دي، چې شخصي، ټولنیز او خصوصي مالکیت سره ګډ کړي، تر څو په دې توګه د ټولنې په ویرولو سره خصوصي اقتصاد د خلکو پر ژوند واکمن کړي او د سوسیالیستي اقتصاد مخه ونیسي.

پانګوالان، د دې لپاره چې کارګران او زیارکښان استثمار کړي ادعا کوي، چې سوسیالیستي اقتصاد له انساني طبیعت سره اړخ نه لګوي او د بشري حقونو ځپونکی دی. په داسې حال کې چې، سوسیالیستي اقتصاد، چې پر تولیدي وسایلو د ټولنیز مالکیت واکمني څرګندوي، نه پر استثمار ولاړ دی؛ نه د زیارکښانو بشري حقوق ځپي؛ نه په ټولنه کې دموکراسۍ ټکنۍ کوي او نه هم فردي آزادي له منځه وړي. بر خلاف دا د پانګوالو زبیښونکی اقتصاد (آزاد بازار) دی، چې بشري حقوق، دموکراسي او فردي آزادي ځپي او د هوساینې پر ځای بدمرغي زیږوي.

د آزاد بازار منځپانګه په ښکاره توګه ښکاره کوي، چې پانګوالو ته نه انساني ارزښتونه مهم دي؛ نه د زیارکښانو هوساینه؛ نه برابري او عدالت او نه هم دموکراسي او انساني حقوق.څه چې پانګوالو ته په آزاد بازار کې تر ټولو لوي ارزښت ګڼل کیږي؛ سود او ګټه ده او له همدې امله سود د خپلې "مدني ټولنې" او کاذبې دموکراسۍ اصلي جوهر ګڼي.

هغه هیوادونه چې پخوا په دولتي او آن سوسیالیستي وزمه اقتصاد سره اداره کیدل، وروسته له دې چې د بازار اقتصاد ته یې مخه کړه، د بیو د لوړوالي، مافیا، اعتیاد، بدلمني، اخلاقي انحطاط، د طبقاتي توپیرونو سیوا کیدنې، د

پېریدلو د ځواک ټيټيدني، د کاري ځواک تيښتي او د ميرمنو له پلورلو سره مخ شول، چي دا په ښکاره توګه د آزاد بازار ځپونکي منځپانګه څرګندوي.
دا وخت يوازې په دوبی کي د ختيځي اروپا ۵ زره ښځي په بدلمنی بوختي دي. په آلمان کي د ۲۰۰۶ کال د فوټبال د نړيوالي سيالی پر مهال دې کوربه هيواد په زرګونو فاحشي د بدلمنی د سوداګری په موخه له ختيځي اروپا څخه راوبللې. همدا ډول د انسان پلورونکي مافيا لخوا د خليج په څنډې کي پر زرګونو روسی پيغلو او ميرمنو سوداګري کيږي، چي دا ټول د آزاد بازار اقتصاد ته د ستنيدو ناوړه پايله ده.
په آزاد بازار کي پانګوال کولای شي د خصوصي ګټو لپاره زرګونه زيارکښان د توليدي ماشينونو تر شا ودروي او له کاري ځواک څخه يي ګټه پورته کړي. په يوې ټولنه کي چي زرګونه تنه د يو کس د ګټو لپاره کار وکړي، په کوم منطق سره ويلای شو چي په دې ټولنه يا اقتصادي نظام کي د بشري حقوقو، فردي آزادی او د دموکراسی درناوی کيږي او زيارکښان له آزادی څخه برخمن دي؟ په آزاد بازار کي پانګوالان کولای شي، زرګونه کارګران له کارخانو څخه وشړي او هر کله چي د پانګوالو کارخاني د لاشعوره اقتصاد له امله له تاوان سره مخ شي، بی له کومه ځنډه زرګونه کارګران وزګاروي او بايد د "پټ لاس" د تئوري تاوان او زيان کارګران وزغمي.
په دې وروستيو کي د امريکا د موټر جوړوني جنرال موټرز شرکت اعلان وکړ، چي په نړيوالو بازارونو کي د جنرال موټرز موټرونو ته د تقاضا د کموالي له امله په پام کي لري، ديرش زره کارګران وزګار کړي او په نورو هيوادونو کي خپلي شپږ کارخاني وتړي. د جنرل موټرز شرکت دا کړنه د دې څرګندوي کوي، چي په آزاد بازار کي د کارګرانو (د ټولني ډيری برخه) آن د کار حق هم د پانګوالو په لاس کي دی او هر وخت چي وغواړي کولای شي دا حق له کارګرانو او زيارکښانو څخه واخلي.
آيا څرنګه چي د آزاد بازار دلالان ادعا کوي، چي له آزاد بازار پرته دموکراسي ناشوني ده، واقعاً هم دا اقتصاد له بشري حقوقو، فردي آزاديو او انساني ارزښتونو سره اړخ لګوي؟؟
په ټوليزه توګه ويلی شو چي فريډمن د پانګوالو د دموکراسی څخه تر ټولو دقيق او رښتيني تعريف کړی دی. د پانګوالو د دموکراسی جوهر سود دی او دموکراسي بي له سوده مانا نلري. د امريکا د متحدو ايالتونو د ۲۰۰۴ کال د ولس مشری ټولټاکنو جوته کړه، چي په رښتيا هم سود د امپرياليستي هيوادونو تر ټولو لويه دموکراسي ګڼل کيږي. په دې ټولټاکنو کي څه باندې ۶۰۰ مليون ډالره د بوش او کري لخوا مصرف شول، چي ۵۰ امريکايي کمپنيو دا مصرف په غاړه اخيستی و. د بوش په بريا کي تر ټولو رغنده ونډه د امريکا د وسلي جوړوني شرکتونو درلوده. دا څرګندوي، چي په آزاد بازار کي دموکراسي !! د کمپنيو په ملاتړ شکل مومي او د سينګار شوې دموکراسی تر شا د کمپنيو زورواکي واک چلوي.